هېڅ يوه ښځه دې پر يو مړي له درې ورځو زيات خپل ډول او سنګار نه پرېږدي مګر د خپل مېړه د مړينې له امله چې پر هغې به څلور مياشتې او لس ورځې غمرازي کوي (ډول او سينګار به نه کوي)

د ام عطيه رضي الله عنها څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «هېڅ يوه ښځه دې پر يو مړي له درې ورځو زيات خپل ډول او سنګار نه پرېږدي مګر د خپل مېړه د مړينې له امله چې پر هغې به څلور مياشتې او لس ورځې غمرازي کوي (ډول او سينګار به نه کوي) هغه بايد رنګيني جامې وا نه غوندي پرته له ساده جامو (عصب) څخه، او نه دې رانجه کوي او نه دې خوشبويي کاروي، مګر دا چې کله پاکه شوه بيا کولی شي چې دوه ډوله خوشبوي (بخور) چې (قُسْط او أَظْفَار) دي وکاروي».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

نبي ﷺ پر مړي د غمراز له امله ښځې منع کړي چې له درې ورځو زيات ډول او سينګار پرېږدي، برابره خبره ده که مړی يې: پلار، ورور، زوی او نور وي، مګر دا چې خاوند يې مړ شي، نو د څلورو مياشتو او لس ورځو په موده کې به ډول او سينګار نه کوي، په دې موده کې به ښځه رنګه کالي نه اغوندي مګر هغه يمنۍ تکه چې له اوبدلو وړاندې رنګ شوي وي، نه به د سينګار په موخه سترګې توروي، او نه به خوشبويي او داسې نور څه کاروي، مګر دا چې کله غواړي له حيض څخه د پاکېدو لپاره غسل وکړي، بيا کولی شي په يوه تکه د قسط او اظفار له خوشبويانو څخه وکاروي، دا دواړه يو ډول بخور دي چې موخه ورڅخه خوشبويي نه وي، يوازې حائضه ښځو ته يې د کارونې اجازه ورکړل شوې ده تر څو د حيض بد بويي ورکه کړي، او د دې لپاره په شرمګاه کې کاربرې چې د وينې اثر او بدبويۍ پرې ورکه شي، نه دا چې د ډول او سينګار لپاره دي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/6086

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee